يَا ابْنَ آدَمَ إِنَّكَ مَا دَعَوْتَنِي وَرَجَوْتَنِي غَفَرْتُ لَكَ عَلَى مَا كَانَ فِيكَ وَلاَ أُبَالِي

له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي چې فرمايل يې: الله پاک فرمايلي: يَا ابْنَ آدَمَ إِنَّكَ مَا دَعَوْتَنِي وَرَجَوْتَنِي غَفَرْتُ لَكَ عَلَى مَا كَانَ فِيكَ وَلاَ أُبَالِي، يَا ابْنَ آدَمَ لَوْ بَلَغَتْ ذُنُوبُكَ عَنَانَ السَّمَاءِ ثُمَّ اسْتَغْفَرْتَنِي غَفَرْتُ لَكَ، وَلاَ أُبَالِي، يَا ابْنَ آدَمَ إِنَّكَ لَوْ أَتَيْتَنِي بِقُرَابِ الأَرْضِ خَطَايَا ثُمَّ لَقِيتَنِي لاَ تُشْرِكُ بِي شَيْئًا لأَتَيْتُكَ بِقُرَابِهَا مَغْفِرَةً»، «اې د آدم زويه، تر څو چې ته ما رابلې او ماته اميد ساتې، زه درته بخښنه کوم که هر څومره ګناهکار وې او پروا نه ساتم، اې د آدم زويه، که ستا ګناهونه د آسمان تر کنارو ورسېږي او بيا له ما څخه بخښنه وغواړې، زه درته بښنه کوم او پروا نه ساتم، اې د آدم زويه که ته ماته د ځمکې په اندازه له ګناهونو سره راشې او بيا زما سره مخ شې په داسې حال کې چې ماسره دې شرک نه وي کړی، نو په همدې اندازه به درته بخښنه وکړم».

[حسن] [الترمذي روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم په دې اړه خبر ورکړ چې الله تعالى په قدسي حديث کې فرمايلي: « اې د آدم زويه! تر څو چې ما رابلې او زما مهربان ته هيله مند يې او مايوسه نه يې؛ په ګناه دې پرده اچوم، درڅخه يې پاکوم او په اړه يې هېڅ پروا نه ساتم؛ که څه هم دا ګناه او نافرماني له کبيره ګناهونو څخه وي. اې د آدم زويه: که ستا ګناهونه دومره زيات شي چې د آسمان او ځمکې تر منځ واټن ډک کړي، تر دې چې کنارو ته يې ورسيږي او اړخونه يې هم ونيسي او بيا له ما څخه بخښنه وغواړې، نو ګناهونه به دې له منځه يوسم او ټول به درته وبخښم، پرته له دې چې ډېروالي ته يې وګورم. اې د ادم زويه: که ته له مرګه وروسته ماته له دومره ګناهونو او نافرمانيو سره راشې چې د ځمکې د ډکوالي په اندازه وي او ته موحد مړ شوی يې او زما سره دې شرک نه وي کړی؛ نو زه به يې په مقابل کې د ځمکې د ډکوالي په اندازه بخښنه وکړم؛ ځکه چې زه د لوی مغفرت خاوند يم او له شرک پرته ټول ګناهونه بخښم.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5456